**بسم الله الرحمن الرحيم**

# اې ګمراه حکامو! ستاسو د بدو کارونو بدبوییو موږ سرټيټي کړو

(ژباړه)



**خبر:**

د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان له مېانماره بنګله‌دېش ته له تښتېدونکو او پناهِغوښتونکو مسلمانانو سره د خپل هېواد د مرستو د چمتوالي اعلان وکړ. هغه د علم او ټکنالوژۍ په برخه کې د اسلامي همکاريو د سازمان په لومړۍ ناسته کې، چې د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې جوړه شوې وه؛ د مسلمانانو د صفونو پر يووالي او يو بل سره پر مرسته ټينګار وکړ او ويې ويل: «له شګ پرته روهنګيايي مسلمانان اوس له ګڼو سختو کړکېچونو او کړاونو سره مخ دي.» نوموړي زياته کړه: «د ميانمار مسلمانان له بېرحمه کړنو سره مخ دي او د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوي. پر موږ لازمه ده ،چې د دغو غير عادلانه او ناوړه کړنو مخنيوی وکړو. موږ غواړو د دغه انساني ناورين د مخنيوي لپاره د بنګله‌دېش او ميانمار له حکومتونو سره مرسته وکړو». اردوغان د دغو خبرو په لړ کې په بنګله‌دېش کې له پناه‌غوښتونکو سره پر مرسته ټينګار وکړ او يوه اړتيا يې وبلله، هغه وويل: «موږ له بنګالي چارواکو سره خبرې وکړې او ورته ومو ويل، چې موږ په دغه برخه کې د مرستې غوښتونکي يو.» (سرچينه: نووستي)

**تبصره:**

اې اردوغانه! نږدې ده موږ دا يې هېر کړو، چې ته د داسې يو پياوړي هېواد ولسمشر يې، چې د پرتمين تاريخ يې درلود. هغه هېواد چې له مظلومانو سره په مرسته او د بې عدالتيو په له منځه وړلو کې يې لوی لاس درلود. نور نو موږ هغه دولت نه وينو، چې تل به د کمزورو لپاره ګرمه غېږه وه او له ختيځ او لوېديځه به يې پناه وروړه. همدا راز

نږدې ده هېر کړو، چې اوسنی حکومت له لومړنیو حکومتونو څخه و، چې په فلسطین کې یې د یهودو رژیم په رسمیت وپېژانده. نه یوازې دا، بلکې له هغه ورسته، چې یاد غاصب رژیم د ترکیې مسلمان بچیان د مرمرې په بېړۍ کې ووژل؛ له اسراییلو سره یې اړیکې عادي او هوکړهلیکونه یې لاسلیک کړل.
نږدې ده هېر کړو، چې اردوغان په سپینه ماڼۍ کې د خپلو بادارانو د رضایت لپاره ټول امکانات وکارول. غواړې هېر مو شي، چې لرې او نږدې یې غولولي او په شام کې یې خپلو مسلمانو ورونو ته شا کړه، خپلې پولې یې د دوی پر مخ وتړلې او په حلب او نورو ښارونو کې یې مکر او چل ورسره کړی دی. هغه تر اوسه هم په ټول توان هڅه کوي، چې لومړی د خپل ملت له بچیانو سره، چې له پنځه لسو کلونو یې زیات حکومت ورباندې وکړ او وروسته بیا له هغو سره، چې د عراق او سوریې په موضوع کې ورسره هم نظره دي؛ له دروغو او بې حرمته ډکه توره پایله ولري. نوموړی په داسې سراب پسې ځي، چې شفاء ببنونکی، د دائمي ژوند لامل او بې حسابه یې بولي، خو په حقیقت کې دی په دې فکر کې تېروتی او سخت په تاوان کې دی؛ ځکه دا داسې گمان دی چې هېڅکله واقعیت نه لري.
دغه دروغجن او موقف غوښتونکي ولسمشر او په سپینه ماڼۍ کې یې بادارانو تر پرونه دا گمان کاوه، چې استانه د شام د انقلاب لپاره ورستۍ ټاکنه ده، چې موضوع به یې تصفیه او د پای ټکی ورته کېږدي. هغه د شام او اهل لپاره یې له خیانته ډکې څرگندونې کړې او نن یې د پخوا په څېر خپلې پوچې او خالي څرگندونې تکرار کړې او ویې ویل: «په میانمار کې زموږ ورونه د لطف او مهربانۍ وړ دي.» ته به وایې چې تشویش یې کوي، له تکلیفه یې ځورېږي او د چارو غمخور یې دی! نوموړی د میانمار دغه وحشتناکه نسلوژنه یوه "ستونزه" بولي.
اې اردوغانه! د میانمار مسلمانانو پر وړاندې دا ټول ناوړه جنایتونه، نژاد ورکونه او نسلوژنې، چې د سر پر سترگو یې وینې څنگه دا ټولې ستونزې یوه وړه ستونزه بولې!؟ څنگه دې مېرمن هم دغه رامنځته شوي جنایتونه رانقلوی!؟ نو اې درواغجنه ولسمشره! په کوم مخ د مسلمانانو د صفونو د یو ځای‌کېدو او یووالي خبرې کوې!؟ د کوم صف او یووالي خبرې کوې!؟ یا دا ادبیات ستا له زړه او لاسونو څخه دي، چې ستا موخې نه شي افاده کولی؟ یا هم ستا په څېر خلک نه پوهېږي، چې دا ښکلې کلیمې څه څېزونه بیانوي؟ وایې بودایان له روهینگیایي مسلمانانو سره ظالمانه او خونړی چلند کوي، خو له دغو څرگندونو ورسته دې څه وکړل؟ یا  فکر کوې چې هغه هم روسیه ده، چې د تاسف اظهار دې وکړ، نرمي دې ورسره وکړه؛ ترڅو دې وبښي!؟ یا دا چې د میانمار حکام او دولت یې د امریکا په څېر بولې، چې د کفري هېوادونو راس او نفود لرونکې ده او ته نه غواړې چې احساسات یې را وپاروې او ویې ځوروې د دې لپاره،چې  ورسته به بین المللي توازن گډوډ شي.
اې د مرگ په سکرات کې ډوبه رئیسه، ویښ شه! پوه شه میانمار یوازې یوه نظامي مانور ته، چې په عراق، شام او قطر کې یې تر سره کوې اړتیا لري. د میانمار دغه کوچنی دولت د ډېر وخت لپاره د مسلمانانو اردو ته اړتیا نه لري،

بلکې که چېرې د اردو رهبري يو قهرمان، مخلص او غيرتي پر غاړه واخلي، چې دين او امت ته احساسات ولري؛ نو په څو محدودو ساعتونو کې به مخکې له دې چې د مسلمانانو اردو هغوی ته ورسېږي، له وېرې وتښتي. پر تا واجب ده، پر هغه څه، چې شيطان وسوسه کړي وو او هېر شوي يې وو سمعې ته ور ورسوې؛ ترڅوپه ميانمار کې زموږ د وروڼو په حق کې له انصافه کار واخلي. هغه خلک چې موږ د دوی او دوی زموږ دي، خو په ياد کار دې موږ له تا څخه د بېزارۍ اعلان کوو.

اې ولسمشره اردوغانه! پوه شه چې الله سبحانه وتعالی د ميانمار خلک يوازې نه پرېږدي، که څه هم خپلوانو يې يوازې پرېښودل. له شک پرته هغوی داسې خدای لري، چې هر څه ويني او اوري؛ هغه سبحانه وتعالی يې ملګری او مرستندوی دی. ته او ملګري به دې هېڅکله هم د هغوی د عزت، لويۍ او دوستۍ وياړ ونه لرئ. تا او ملګرو دې د خيانت او ذلت جامې پر تن کړې او بل څه هم نه دي پاتې، چې ستاسو د دغو بدو کړنو بدبويۍ پټې کړي؛ هغه بدې کړنې، چې د تعفن بوی يې موږ اذيت او سرټيټي کړي يو. موږ ډاډه يو، چې دا پېښې به د رباني خلافت لپاره پيليزه وي، چې دغه خلافت به د دين د ازادۍ، نصرت او د امت د لوړولو او عزت وياړ ولري او دا دولت به ستاسې له کمې او زهرجنې ډلې څخه د بشريت د ازادولو وياړ ولري. که څه هم تاسې يې راتګ لرې بولئ، خو موږ يې نږدې بولو. الله سبحانه وتعالی به خپله ژمنه پوره کړي او موږ به پر ځمکه د نبوت پر منهج د راشده خلافت وارثين وګرځوي. هغه خلافت چې زموږ په لاسونو به تاسيس شي، چې ستاسو د تخت او تاج له منځه تګ به ورسره مل وي. لکه څنګه چې موږ د هغې ورځې په تمه يو، تاسې يې هم په تمه شئ.

ډاکتر ماهر صالح

۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۲۱مه

۲۰۱۷ م، د سپټمبر ۱۲مه